## کوچي پيغله

دځواني ښکلی دوران وه
نوی ژوند نوی زمان وه
دی غور په علاقه کي
دولتيار په شنه دره کي
له ملګروسره رو ان وم
په چر تونو کی دځان وم
په اس سپور ايلبندته تلمه
په شنو تږوو ور ختمه
دي پسرلي خيالي هواوه
جنتي غوندي فضا وه!
شنه دره ښکلي ګلان وه
يومست رودپکي روان وه
ډير تند او خروشان وه
رود په ځغاسته ګوزيده
شين ښامار وه غو ريده
شنه ورشوشني شيلي وي
او خوری پکي رمي وي
واښه جګ ترځنګنو وه
زماداس ، ترريکابو وه
يوه زرغونه شنه غونډی وه
د غونډي په سرکيږدي وه
ترخوا ای يوه کوچی وه
کوچی نه وه يوه هوسي وه
خورامسته او ګلالي وه
يودي حسن شاپيري وه
يوه دي ميني درخا ني وه
لوړ ي ونه دنګه غاړ ه
توري سترګي يي ملاله
تورپيکي يي باد وا هنه
زما زړګي ای تخناوه نه
دي ، کتل خواږه وماته
زه ای محوه ، تماشاته
ژبه ګونګه شاني شوله
خپله شونډه مي ژوله
زه بي خوده ودريدمه
هيڅ پرځان نه پوهيد مه
کوچي مسکه په شا شوه
په مکيز او په خندا شوه

په یوه انداز ای راکتلو
تور پیکي ا ي وځنډلوو
پیغلی ، غړراباندي وکړ
او دسکوت زړه اوبه کړ
وي ته څه غواړي ځوانه؟
چی ولاړای ، پری شانه؟
ماوي لړاوبه که راکړي؟
ډیراحسان به د په ماکړي
داپه کړس اوپه خنداشوه
په ملاړنګه بنګه بیاشوه
شوه کیږدي خواته روانه
لکه یوه زرکه خرامانه
جام یي ډک راوړلاسوکي
بیرته راغله په ،نخروکي
سترګي کښته ،واچو لي
غلی غلی ا ي را کتلي !
پټه مسکه مسکه شوله
سپینه سینه یي رپید له
دواړه تیو ای نڅا کړه !
دوی زما په لور هوا کړه
اننګونه یي تک سره وه
دي ګلاب په څیرتازه وه
سپینو لاسوکي جام وه
آخ! زړګي می نا ارام وه
جامي واخیست هغي نه
زړه مي لاړله سیني نه
ماوبه په مزه مزه څکلي
سترګولاندی مي کتلي
اوبه نه دشرابوپیمانه وه
دسرو میوو یوه پیاله وه
زه خیام او ،دا ساقی و ه
یوه لنډی شان پادشاهی وه
هغه خوندمي نه هیریږي
څوچي ساراکي چلیږي !
له هغي خوږي شیبي نه
له هغي تیري لحظي نه
ډیروختونه دي تیرشوي
ډیر کلونه زاړه شوي
چي رایاد ه خاطره شي
روح می وناڅي تازه شي
ځان مي ګرم ګرم کیږي
اوزړګي مي وغوړیږي
خوله ډکه له خوږوشي
وینه ګرمه په ټوپو شي
په خیالونو کي ځنګیږم
په چرتونو کي اوسیږ م !

غورات . دولتیار
کال ۱۳۴۹